هارون زرغون ۲۰۱۰/۱۲/۱۸

# اعلامیهٔ حزب اسلامی افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم

**د افغانستان له لارى د ترکمنستان د گاز انتقال:**

حزب اسلامي د هغه تړون په کلکه حمایت کوي چي له مخي ئي د ترکمنستان گاز د افغانستان له لاري پاکستان او هند ته انتقالیږي، دا منصوبه د افغانستان او افغان ولس په گټه گڼي او د پلي کېدو په اړه ئي د هر راز مرستي ته چمتو دئ، حزب اسلامي خپلو ټولو غړو ته لارښوونه کوي چي پرې نږدي د دې پروژې د پلي کېدو په وړاندي د مجاهدینو له لوري یا د مجاهدینو تر نامه لاندي خنډونه راولاړ شي، هغه څوک به د دې او دې ته ورته پروژو مخه نیسي چي د پردیو نوکر او د خپل هېواد او ولس دښمن وي، په دې کي هیڅ شک نشته چي ایران او روسیه د دې پروژې مخالفت کوي، په افغانستان کي د جگړي د دوام یو ستر علت دا وو چي ایران او روسیې نه غوښتل په افغانستان کي امنیت راشي او د مرکزي آسیا تیل او گاز د افغانستان له لاري انتقال شي.

ایران غوښتل له یوې خوا د هند او پاکستان مارکیټ په خپلي ولکي کي راولي او تر هغه زموږ په هېواد کي جگړه او بې امنیتي دوام وکړي چي د ایران د گاز نل لیکه د پاکستان له لاري هند ته وغزېږي او له بلي خوا د مرکزي آسیا تیل او گاز هم د ایران له لاري بهر ته صادر شي، ایران چي تر ننه په افغانستان کي د جنگ او بې امنیو پر دوام کومه پانگونه کړې، او په تېرو کلونو کي ئي وطن پلورونکو ډلو ته پیسي او وسلې لېږلي دي او هغوى ئي جگړو ته هڅولي دي موخه ئي همدا وه، واشنگټن په داسي حال کي په دې اړه د ایران مرسته کړې ده چي د رسنیو په کچه د ایران د مخالفت ادعاء کوي، دا په داسي حال کي چي افغانستان ئي د ایران او روسیې لپاره فتح کړى او د هغوى مستعمره ئي ترې جوړه کړې، د پاکستان نا اهلو حکومتونو هم داسي تگلاره غوره کړې وه چي تل ئي گټه تهران او مسکو ته رسېدلې، نږدې وو چي له ایران سره هغه تړون لاسلیک کړي چي ایران د هغه لپاره دا څو کاله په افغانستان کي د جگړو اور بل کړی، غوښتل ئي د پاکستان له لاري د ایران گاز هند ته انتقال شي.

موږ نه یوازي د دې ستري پروژې ملاتړ کوو چي د ترکمنستان گاز د افغانستان له لاري انتقال شي، او د دې منصوبې پلي کېدا د جگړو په خاتمې کي په جدي توگه مؤثر او اغېزمن گڼو، دې ته چمتو یو چي د بادغیس، هرات، فراه، نیمروز، هیلمند او کندهار په هغو سیمو کي د نل لیکي د غزولو په کار کي مرسته وکړو او امنیت ئي تامین کړو چي د حزب اسلامي د نفوذ سیمي دي.

دا وضاحت باید وکړو چي دا ملاتړ او مرسته په هیڅ توگه د اشغالگرانو په ضد زموږ پر روان مسلحانه مقاومت څه اغېز نه کوي، زموږ د مجاهدینو بریدونه به د مخکي په څېر او ترهغه زیات پر اشغالگرانو دوام کوي، زموږ هوښیار، مؤمن او خدای پال مجاهدین پوهېږي، چي د چا په ضد وسله وکاروي او د چا په ضد نه، کوم کار وکړي او له کوم کار ځان وساتي، د هغوى د توجه اصلي محور هغه ځواکونه دي چي افغانستان ئي نیولی، په افغانانو بمونه وروي او غواړي د خپلي خوښي نظام او لاس پوڅی حکومت زموږ پر هېواد مسلط کړي، زموږ مؤمن مجاهدین له هغو چاودنو او بریدونو ډډه کوي چي افغان ولس ته مرگ ژوبله اړوي یا ملي تاسیساتو ته زیان رسوي.

حزب اسلامي افغانستان
۲۱ قوس ۱۳۸۹

Haroon Zarghoon :
haroonzarghon۱۰@yahoo.com


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ